بسم الله الرحمن الرحیم

الله اکبر

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

ARIC

محاذ

بسم الله الرحمن الرحیم

نبوي حدیث

له حضرت فضاله (رضی) څخه دشهید د اعمالو د لوړتیا او برتری په برخه کې درسول صلی الله علیه وسلم له قوله داسی روایت شوی دی ۰

دهر میت په عملونو به مهر کیښودل شی ، خو له هغو کسانو پرته چې دوی دخدای (ج) په لار کې وجنګیدل او په دغه لاره لاره کې شهیدان شول ، او د قیامت تر ورځی پوری به د دوی د نیکو عملونو په فضیلت کې زیاتوالی راځی ۰

ابو داود (رح) او ترمیذی (رح)

بسم الله الرحمن الرحیم

محاذ

در هر دو ماه یکبار نشر میشود

سال اول ـ شماره پنجم ـ اسد ـ سنبله ١٣٦٦ هجری شمسی

مطالب عمده‌ای

که در این

شماره میخوانید

شماره ——— مضمون ———

١ : ـ سرمقاله
٢ : ـ ما به هیچ کس حق نمی‌دهیم که خود را بر ملت ما تحمیل کند
٣ : ـ نظری به حادثه اسف انگیز امسال در مکه معظمه
٤ : ـ چی ومولیدل لوومومنل
٥ : ـ مجاهد راه حق
٦ : ـ خلافت
٧ : ـ د کربلا تاریخی پاڅون
٨ : ـ د حبشی د هجرت سیاسی اثرات
٩ : ـ کاروان شهداء
١٠ : ـ فقدان دین و اخلاق در میان ملتی برابر است با سقوط قطعی آن ملت
١١ : ـ مجاهدین به کوماندو های روس تحفة دادند
١٢ : د سره استعمار دوه مخی څېره
١٣ : ـ در مذاکرات ژینو چرا پیشرفتی بعمل نیامد
١٤ : ـ در شفاخانهٔ ابن سینای بلخی در ظرف سه ماه اخیر . . .
١٥ : ـ سلاح و آموزش آن
١٦ : ـ خاطرهٔ از سازمان کمونستی
١٧ : ـ شهدای راه حق

آدرس ما :
محاذ ملی اسلامی
افغانستان
ریاست فرهنگی
مدیریت عمومی نشرات
پست بکس : ٥٣٢
پشاور ــ پاکستان

د ژینو خبری او د نجیب رسوایی

له کومې ورځې نه چې خلقي او پرچمي ګوډاګیانو د افغانستان دمسلمان ولس سیاسي قدرت غصب کړی او دروس کمونستي استعمار دافغانستان په پاکه او آزاده خاوره لوټ اوبربنډ تیری کړی دی ، دغه جنت نشان وطن داور او وینو په دوزخ بدل شوی دی .

دافغانستان په سوله دوست او ناپیلی هیوادکې چې دسولې اوامن دجنت نوم يې ګټلی و ، نن ورځ دوینو نیزونه روان دي او هره ورځ بې دفاع ښځې ، ماشومان اوسپین ږیري د روس دسره پوځ دوحشي جلاد د ظلم او استبداد په خونړۍ چړي سره د شهادت جامونه څښي .

دروس بې رحمه اومستبد استعمار د خپلو وژنو ، ړنګونو اونورو ډول ډول مظالمو دپټولو له پاره کله کله تبلیغاتي مانورې پيل کړي ، شورماشور اوها ها جوړه کړي چې ګواکې «دافغانستان قضیه ماته په یو ناسور تبدله شوې ده اوغواړم چې دسولې اوآزادۍ په احترام خپل - ۰۰۰,۵ ۱ - پوځي لښکرې له افغانستان څخه و باسم » او په دې توګه يې دسیمې او نړۍ خلکو داغفال او غولولو په مقصد دژینو دخبرو چینل خلاص کړی دی . کله چې په افغانستان کې جنګ تود او مقاومت پیاوړی شي نو دوی بیا دژینو خواته ورمنډې کړي او دخلکو د توجه جلبولو له پاره په اصطلاح دسولې اوسیاسي حل نارې سورې پيل کړي .

سږ کال هم په داسې حال کې چې څو ورځې وروسته دملګرو ملتونو په مقر کې ددغې نړیوالې ټولنې دعمومي اسامبلې غونډې پیل کیږي دکابل ګوډاګي دولت دروس په امر او مشوره دنړیوالو ذهنیتونو د مغشوشولو او د بین المللی فشار دکمښت په مقصد يې ژینوته وروځغستل اود مذاکرې پیشنهاد يې وړاندې کړ . خو کله چې د مذاکرې په میز کیناست نو بیا يې هیڅ ډول پیشنهاد نه درلود او دپاکستان استاذي ته يې ویل چې خپل پیشنهاد وړاندې کړه . په دغو خبرو کې هیڅ داسې نوی ټکی موجود نه و چې دوضعې دښه والي اوتشنج د کمښت باعث شوی وای او همغه زړې اوتې بوتې وې اوبس . له نیکه مرغه چې دې عمل د کابل ګوډاګي رژیم لا نور هم رسوا او بربنډ کړ .

دروس استعماري څواک ، اودهغوی ګوډاګیان غواړي چې دخپلو تبلیغاتو سیاسي مانورو او نورو نیرنګونو نه لارې په خپل لوټ او بربنډ تیری ، ظلم استبداد ، وژنو اوړنګونو باندې پردہ واچوي او خپل ځان ددې قضیې مظلوم او حق په جانب طرف معرفي کړي . دوی د همدغه مقصد دلاس ته راوړو له پاره څه دپاسه شپیتو هیوادونو ته خپل استاذي ولیږل اوله هغوی څخه يې دنجیب دګوډاګي دولت د به رسمیت پیژندلو اودسیاسي مناسباتو دټینګولو غوښتنه وکړه څو دملګرو ملتونو دعمومي اسامبلې په غونډه کې دافغانستان دمظلوم اومسلمان ولس په طرفدارو رایو کې کمښت راولي .

موږ په دې عقیده یو چې اسلامي نړۍ ، ناپیلي هیوادونو اودآزادۍ نړۍ هیوادونه او نورې بین المللی ټولنې

بەدافغانستان دمسلمان اوآزادي دوست ولس پەحقەحقوقو ستر ګي نه پټوي او دروس استعماری اوتيري کوونکي ځواک تەبەپەدې حق نەقايلېږي چیهغەدې په افغانستان کی خپل تيري ، ظلم او استبدادته دوام ورکړي . او «زور» بايدد «حق» ځایوله نیسی . اوکەچیرې «زور» د «حق» ځایونیو نوخطر بەیی نور هم زيات شي . او پەدې توګه بەدروس دکمونستی ځواک پەلاس ددغه بلشوي اورلمبی نورې لرې تەهمسرايت وکړي .

دافغانستان مسلمان او آزادي دوست ولس چیدخپلی عقیدې وطن اوآزادۍ د ساتلولەپاره لەلسو کالوراهیسی کوم مقاومت پیل کړی دابەترهغه وختەدوام وکړي څو دروس کمونستی استعمار دتیري کوونکو لښکرو وروستۍ عسکر هم له افغانستان څخەووزي اوپەافغانستان کی یو اسلامی منتخب نظام منځ ته راشي .

(څا څی)

اصلي رنګ

کمونیزم لفاظی ده ، فریبکاری ده
خوزموږ ملك کښې ښکاره په اصلي رنګ شو
«يورش» وکاندې په خلکو اعلان «مارش» کا
جومات «رنګ» کړي په راډيو کښې وايي «رنګ» شو

پیر سید احمد گیلانی به مجاهدین ومهاجرین مقیم کویته گفت :

ما به هیچکس حق نمی دهیم که خود را بر ملت ما تحمیل کند

من با اطمینان وجدانی میگویم که ما جهاد را برای خدا وبه امر خدا آغاز و ادامه داده ایم و شعار ما اعلاء کلمةالله و آزادی وطن عزیز میباشد ۰



پیر سید احمد گیلانی رهبر محاذ ملی اسلامی افغانستان جهت باز دید یک هفته یی از کمپ های مهاجرین افغانی در ایالت بلوچستان پاکستان ساعت ۳/۵۰ بعد از ظهر روز شنبهٔ ۲۲ اگست ۱۹۸۷ توسط طیاره از اسلام آباد به کویته مواصلت کردند.

رهبر محاذ ملی اسلامی افغانستان در میدان هوایی کویته مورد استقبال پر حرارت و بی سابقهٔ هزارها مهاجر، مجاهد و انصار قرار گرفتند.

در خارج محوطهٔ میدان هوایی کویته هزار ها نفر دیگریکه انتظار ورود رهبر مجاهد را داشتند هنگام گذشتن موکب رهبر محاذ ملی اسلامی ازمقابل صفوف مستقبلین همه مهاجرین و مجاهدین با **سردادن نعره های کفر شکن الله اکبر . زنده باد اسلام . زنده باد پیر سید احمد گیلانی - مرگ بر روس ها - مرگ بر اشغالگران مرگ بر نجیب و نابود باد حزب خلق و پرچم** درحالیکه صد ها شعار و تمثال رهبر محاذ ملی را با خود داشتند ابراز احساسات نموده ورود رهبر شان را خیر مقدم گفتند.

موکب رهبر محاذ ملی اسلامی افغانستان در حالیکه از طرف صد ها عراده موتر های خورد و بزرگ که حامل هزار ها مهاجر و مجاهد بود از میدان هوایی تا دفتر محاذ ملی در کویته مشایعت گردیده و در مسیر راه از میدان هوایی تا شهر کویته که هفت کیلو متر فاصله دارد از طرف هزار ها مهاجر دیگر که در نقاط مختلف صف کشیده بودند مورد احترام و استقبال قرار گرفت.

پیر سید احمد گیلانی طی بیاناتی که در کمپ های مهاجرین افغانی

پیرسید احمدګیلاني په کویټه کې انغاني مجاهدینو اومهاجرینوته د وینا په حال کې.

در ایالت بلوچستان ایراد کردند ضمن اظهار شکران از استقبال گرم و بی سابقهٔ که از ایشان بعمل آمد بر ابعاد مختلف جهادی و شرایط سیاسی فعلی روشنی انداخته گفتند:

از فضل خدای بزرگ درسنگرهای گرم جهادی خود درمقابل دشمن نه تنها به موفقیت های چشمگیری نایل شده ایم بلکه دشمن را با شکست حتمی مواجه ساخته ایم اما متاسفانه باید گفت که در صحنه سیاسی هنوز هم نارسایی هایی موجود است و تا کنون تنظیم جهادی ما موفق نشده اند قیادت واحدی را که مخصوصاً در شرایط فعلی نیاز مبرمی بآن احساس می شود. بمیان آورند، ولی با آنهم الحمد لله شکل ائتلافی داریم درمسائل باهم مناقشه ومباحثه مینمائیم ماباهم برادریم ودشمن همهٔ مایکی است **وهدف مشخص و مشترک**

ما اخراج عساکر روسی - از بین بردن حکومت الحادی در افغانستان ودر عوض آن بمیان آوردن حکومت اسلامی میباشد واین سه رکن عمده واساسی ما میباشد که الحمدالله درآن متفق میباشیم مگر باز هم بعضی اختلافاتی است که روز بروز برای حل آن پیشرفت های حاصل می‌شود.

رهبر محاذ ملی اضافه نمودند که عقیدهٔ خودم وتنظیم محاذ ملی اسلامی افغانستان از بدو امر این بود تا یک شورای منتخب مجاهدین ومهاجرین که آنها خود نمایندگان شان را انتخاب نمایند تشکیل شود تا بتوانیم در مورد قیادت و حمایت از شورای ومسائل عمده تصمیم بگیریم.

طوریکه قبلاً گفتم در صحنه سیاسی نارسائی های وجود دارد، دشمن ما دشمن بزرگ و محیل است وما باید برای دفع و تخنیث مکر وفریب دشمن دستگاهی مناسبی داشته باشیم.

حکومت الحادی که به همت وپایمردی مجاهدین متزلزل گردیده وجهاد را تاامروز ادامه داده است باید زعامت مجاهدین زمینه آنرا فراهم سازد که تا به ملت مجاهد افغانستان این فرصت میسرگردد که آنها نظام آینده اسلامی شان را تعیین وزعامت آیندهٔ خود را انتخاب نمایند بناً در مرحله اول حق مجاهدین و رهبری مجاهد است تا حکومت موقت یاانتقالی راتدویرنماید.

واگر احیاناًطرحی بمیان آید که توام با اخراج عساکر روسی از افغانستان تحلیل حکومت ملحد کابل حکومتی موقتی تشکیل گردد تازمینه انتخابات را فراهم نماید که خود ملت مجاهد افغانستان نظام وزعامت خود را تعیین و انتخاب نماید. اگر این حکومت موقت وزعامت افغان ومسلمان بوده و طرف قبول اکثریت مجاهدین ومهاجرین باشد ما با آن مخالفت

نداریم .

مگر باید این حکومت موقتی با اخراج قوای اشغالگر وتامین آرامش نسبی انتخابات آزاد را مجری دارند ملت مجاهد افغانستان قیادت آیندهٔ وطرز حکومت خودرا تعیین نماید درین صورت بشما خاطر نشان می سازم که درین راه هر مشکلی که باشد ما و شما آنرا دور می سازیم و ـ ما به هیچکس حق نمیدهیم که خود را بر ملت ما تحمیل کند ومن با اطمینان وجدانی می گویم که ما جهاد را برای خدا وبامر خدا آغاز و ادامه داده‌ایم وشعار ما اعلای کلمة الله و آزادی وطن عزیز میباشد نه برای اینکه حتماً زعامت آیندهٔ افغانستان را بگیریم این کار ملت مجاهد ومسلمان افغانستان است . نه بخود این حق را میدهم و نه حاضر هستم که بدیگری این حق را بدهم که خود را برشما تحمیل نماید ــ هر افغان مسلمان حق دارد که درین جهاد سهیم شود ، **ما بر هیچ مسلمانی الزام کفر نمی نمائیم وبه کسی این حق را نمی دهیم که بر دیگران الزامات بیجا را وارد نماید .**



زموږ روحانی مشر پیر سید احمد گیلانی د کویټې په ښار کې
له مجاهدینو او مهاجرینو سره

رهبر محاذ ملی اسلامی افغانستان گفت : موضوع دیگری که میخواهم تذکر دهم اینست که دراین روز ها افواهاتی است که گویا من بامحمد ظاهرشاه پادشاه سابق اختلاف دارم ــ این موضوع بی اساس بوده و بکلی عاری از حقیقت است تقریباً دو ماه قبل باوی ملاقات کردم و در اکثر مسایل نظر ما بسیار نزدیک است .

طوریکه قبلاً گفته شد که هیچ کس حق ندارد خود ویا کدام دوست خودرا برما تحمیل نماید . بهمین اساس محمد ظاهرشاه نیز گفت که تصمیم ندارم برملت افغانستان تحمیل شوم و یادوباره پادشاه شوم ولی این امر برایم فرض است که بحیث یک فرد مسلمان وافغان در راه آزادی سهمی بگیرم تا مصدر خدمتی به دین ووطن شده بتوانم .

ضمن این بیانات شان رهبر محاذ ملی گفتند : **برادران مهاجر و مجاهد ما میدانند که دشمن محیل میخواهد ازهر فرصت ممکن استفاده کرده مخصوصاً درین لحظهٔ حساس سعی دارد بین مهاجرین وبرادران انصار اختلافاتی ایجاد نماید لیکن ازهر دوطرف خواهش مینمائیم تا برای دشمنان دین ووطن فرصت ندهند که از ایجاد چنین اختلافات استفاده نموده تسلط خود را بر افغانستان حفظ کرده وخدا ناخواسته در آینده نیت شوم خود را بر برادران پاکستانی و یا ایرانی ما توسعه دهد .**

متعاقب بیانات پیرسید احمد گیلانی که در هرجا با نعره الله اکبر بدرقه میگردید محترم عزیز الله واصفی سابق وزیر زراعت افغانستان به نمایندگی ازمهاجرین این کمپ ـ ها مطالبی ایراد و ضمن آن در مورد

په بلوچستان کې زموږ د ګران رهبر پیر سید احمد ګیلاني د شانداره هر کلي یوه ننداره

سهمگیری ظاهر شاه پاد شاه سابق گفت : - ظاهر شاه خود را پاد شاه افغانستان نمیداند ، خدمات را که او در افغانستان کرده فراموش هیچ کس نیست ، ظاهر شاه این حق را میخواهد و این حق را دارد که بصفت یک فرزند بسیارغریب افغان درجهاد سهم بگیرد انتخاب حکومت افغانستان وطرزنظام آن کار ملت افغانستان است این نه کار فرد است و نه تنظیم ها میتوانند برای ما کسی را معرفی نمایند البته طبق سیاست هر کس آزاد است هرچه میخواهد بگوید .

در دوران بازدید خود از کمپ های مهاجرین در بلوچستان ، رهبری محاذ ملی نخست **از کمپ بزرگ سرخاب** دیدن کردندکه یکصدو هفتا - دو پنج هزار مهاجر از نقاط مختلف افغانستان مخصوصاً ولایات جنوب غرب کشور زندگی داشته و حین استقبال از پیر سید احمد گیلانی بیش از بیست وپنج هزار نفر در محفلی اشتراک کردند که رهبر محاذ ملی بیانیه ایراد کردند .

متعاقباً کمپهای **اسحق‌زیی و علی زایی** مورد بازدید رهبرمحاذ ملی قرار گرفته و مورد استقبال هزار ها مهاجر قرار گرفته و بیانات شان از طرف مستقبلین تائید گردید .

آخرین کمپی که مورد بازدید پیر سید احمد گیلانی قرار گرفت **کمپ پنج پای بود که دران یکصدوسی وپنج هزارمهاجر** ولایات جنوبغرب کشورسکونت دارند درین باز دید بیش از سی هزار مهاجر و مجاهد از رهبر محاذ ملی استقبال شایانی نمودند . در محفل استقبالیه این کمپ بر علاوه مستقبلین در محفل صد ها زن و طفل در خارج محفل گرد آمده وحین بیانیهٔ رهبر محاذملی اشک از چشم ریخته و دست نیایش به بار - گاه احدیت بلند کرده و همزمان با نعره های الله اکبر مهاجرین ومجا - هدین ازخالق بی نیازاستدعا مینمودند تا افغانستان عزیز را در سایه اسلام از تجاوز بیگانگان محفوظ داشته آزاد سازد . رهبر محاذ ملی اسلامی بعد از یک هفته بازدید ازکمپ های مها - جرین در بلوچستان ساعت دوازده و - بیست دقیقه ظهر پنجشنبه ۲۷ اگست ۱۹۸۷ توسط طیاره عازم اسلام آباد شدند .

نظری به حادثهٔ اسف انگیز امسال در مکهٔ معظمه

حج بیت الله یکی از ارکان پنجگانه اسلام است که تحت شرایطی خداوند بزرگ آنرا بر بندهگان مسلمان خود فرض گردانیده است .

خداوند بزرگ میفرمایند (. . . . . . . و لله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا) ال عمران ۹۷

دین مبین اسلام برای ادای این عبادت اصول و اساساتی را پیش بینی نموده که دانستن آن ها و از طرفی هم احترام به آن ها حتمی و ضروری پنداشته می شود .

مذاهب اسلامی طی قرون متمادی تا امروز به این اصول و اساسات احترام وصحه گذاشته اند .

ادای فریضه حج دارای اهداف متعدد بوده و هدف اولی آن همچو سایر عبادات عبارت از تربیه ، صفا و اعلای روح انسان است .

هدف دوم این رکن اسلام آن است که باالوسیله مسلمانان از کافهٔ انحاء عالم درین مرکز بزرگ و مقدس اسلام دور هم جمع گردیده ، همه انواع و اشکال منازعات را به یک سو گذاشته یکی با دیگری با اخلاص و محبت و با قلب های آگنده از اخوت همدگر را در آغوش فشارند که این خود برای اتحاد و یکرنگی مسلمانان اهمیت بسزایی دارد .

حرمت و عظمت این روز ها و محل مقدس با شعایر و مناسک آن و همچنان احترام بهاین شعایرالله توسط آیاتقرآن عظیم الشأن تأکید شده است .

احترام و تعظیم به محرمات حج بندهگان خداوند را از تنازع و مخاصمت با کافهٔ اشکال آن در سفر بیت الله بدور گذاشته و ایشانرا در راه تربیه تصفیه واعلای روح مسلمانان همراهی و بدرقه مینمایند .

خداوند بزرگ میفرمایند (. . . . . . ذالک و منیعظم شعایرالله فانها من تقوی‌القلوب) الحج ۳۲ در آیت دیگری ذات کبریای چنین فرموده اند (الحج الشهر معلومت فمن فرض فیهن الحج فلا رفث ولا فسوق ولا جدال فی الحج وما تفعلوا من خیر یعلمه‌الله وتزودوا فان خیرالزاد التقوی واتقون یا اولی الالباب) ۱۹۷ البقره

ازمطالعه این آیة کریمه چنین فهمیده میشود که فسق و جدال درحج حرام بوده وبر تقوی تأکید شده است .

ولي باكمال تأسف بایست گفت که حج امسال شاهد حادثه تأثر انگیزی بوده کهدر نتیجه عدم احترام به اصول واساسات تعین شدهآن باعث تلفات عدهٔ از حجاج گردیده و موجب تأثر مسلمانان در جهان گردید .

محاذ ملی اسلامی افغانستان همه اعمال مخالف اسلام رامردود شمرده وهمچنان همه آن نوع حرکاتی راکه با اصول ومبادی تعین شده برای این رکن اسلام مغایرت داشته باشد مذموم پنداشته وآنها راتقبیح مینماید .

په تېره پسې

عبدالله گل ریان

چې وموليدل نو وموسنل
څلورمه برخه
د مسجدونو تخريب او د مذهبي عناصرو تصفيه

مارکسستانو دمذهب په خلاف دتبليغاتي فعاليت ترڅنګ په عمل کې هم دمذهب د ورکوالي لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، مساجد، مدارس او نور ديني ځايونه يې خراب کړل. په کلپونو، موزيمونو، دګدا اونځاپه ځايونو او مطالعه خانو يې بدل کړل مذهبي خلک يې په يوه او بل تورله مدني حقوقو څخه محروم کړل. بند - يانه - شهيدان او تبعيدي کړل؛ خو ددې لپاره چې دنړۍ خلک خصوصاً مسلمانان وغولوي په هر ښار کې يې يو يا دوه مسجدونه آزاد پرېښودل دکې، چې، يې څو څو تنه غړي يې کال په کال حج ته استول، آن تردې چې دمفتي اوصحبت په نامه يې هم څني خلک دهمدې غولولو لپاره ساتلي دي او پاپي عيسوي کليساوې خلاصې پرې اينبي دي.

ددين په نامه يې مرکزونه هم جوړ کړي دي څو له هغوی څخه د سياسي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره ګټه واخلي. مثلاً:

په تاشکند کې اسلامي اداره داوفاديني اداره، دبوينې کسک ديني اداره او دباکو ديني اداره، هغه څلور مرکزونه دي چې د تزاريانو له وخت څخه پاتي او اوس هم فعاليت کوي خو فعاليت د کمونيزم په ګټه، څکه دا مرکزونه باندېنې نړۍ ته په روسيه کې د مذهب دآزادۍ دليل ګني اوپه داخل کې د مذهب دمسخ کولو کار ورڅخه اخلي، د ۱۹۵۶ م کال د مې د مياشتې په يوولسمه نيټه دماسکو دمسجد امام غوښتنه وکړه چې خلک دې دروژې نيولو تکليف په ځان نه راوړي څکه په قوآنکريم کې روژه لازمي نده ګڼل شوې.

دا اعلان يو ژوندی ثبوت و چې وي ښودل چې په روسيه کې ديني مرکزونه دکمونستي مرام د تطبيق لپاره استعمال کيږي.

پههرحال زموږ موضوع دمساجدو تخريب و چې له روسي کمونستي انقلاب څخه را په دې خوا پهزرګونو مسجدونه ويران شوي يا په نوور مرکزونه بدل شوي دي.

ديوي دولتي احصا يې له مخې په ترکستان کې تر کمونستي انقلاب دمخه د هرو ۷۰۰ - ۱۰۰۰ تنو لپاره يو جامع مسجد و، شپږ زره او دوه سوه ديني ښوونځي او شپږ سوه ديني ثانوي مدرسې او دارالعلومه موجود وو، چې غيررسمي ترديشمير څو برابره زياتي وي، دترکستا - ني مورخ ميرزا بالا په قول بالشويکانو يواځې په ترکستان کې تر څوارلس زره زيات مسجدونه بند کړل.

د قزل ازبکستان ورځپاڼې د ۱۹۳۶ کال دمي دمياشتې په ۹ مه ګڼه کې وليکل: دا مسجد و نه ياتخريب شول يا په ګدامونو، دلينن په تالارونو، چای ځايونو او ياهم په نورو د فحشاء په مرکزونو بدل شول.

له ۱۹۲۱ څخه تر ۱۹۲۷ کال پورې په اذربايجان کې ۱۹۲۳ مسجدونه بند کړای شول.

په قفقاز کې تر ۱۹۴۰ میلادي
کال پورې ۳۸۰۰ مسجدونه په
پورتنی سرنوشت اخته شول .

په تاتار او باشکر کې هم په
سلهاوو مسجدونه بند یا تخریب
شول .

دمسجدونو له تخریب سره سره
یې تول هغه اشخاص چې مذهبي
رنگ یې درلود او یا یې کوم دیني
عمل لیدل شوی و له شهادت څخه
نیولې تر متبعید او په شاقه کارونو
گمارلو ، تولو کړاوونو یې
وکړول .

اوایل سو سلیک دمحبو مینو
له خولې ولیکل چې : د لهرونو
د کیندلو لپاره یو زیات شمیر علما
زاوستل شول داعلما د ترکستان، او
ازبکستان او سیدو نکی وو ، چې
د خپلو خلکو لپاره یې د قدر وړ
خدمتو نه کړی دی ، په کمپ کې
دنورو ملیتونو بندیان هم وو خوپه
بل ملیت کې د علماوو دومره احترام
نه لیدل کیده لکه په ترکمن او ازبکو
کې چې دعلما وو احترام کیږی . . .
ددی کمپو نو تول بندیان علما
له څه وخت وروسته په ډیر غیر انساني
حالت په جلا وطنی کې مړه شول،
داخبره مشکله ده چې په دی تولو
کمپونو کې دشهید شویو علماؤ شمیر
معلوم کړو خو د (ازادی کاکیشا)
اوترک لی دمجلو په حواله ویلای



روسي تیري کو نکو د دې ما شوم ښوونځی ولی سو ځولی دی ؟

شو چې تر ۱۹۴۰ میلادی کال
پورې پنځوس زره ترکستا نی علما
او مذهبی مشران دکمونزم وحشت
وخوړل .

ددین او متدینو په مقابل کې
چې کمو نستا نو کومه له وحشت
څخه ډکه رویه کړې ده پته نده ،
هره بلا به د متدینو په سر راکښته
کیدله ، دیوه اسلامی حکم په اجرا
به هغوی دا جباری کار کمپونو ته
استول کیدل .

دترکستان دمسلمانانو خصوصا
دینی علماو جهاد او له دین او وطن
څخه د دفاع لپاره هلی ځلی خو
تاریخ نشوای هیرولای ، چې دهغوی
اتلولی دفیض‌الله خدیو له خولی
(دچې په صبح سمر قند ۱۳ مخ کې
نشر شوی دي) اورو هغه وایي :
فدایي ملا یان سره لدې چې وضع
یې بې‌سر او سامانه وه خو ډیر په
د لاوری سره جنگیدل، هغوی یوائی
چاقو ، تبر او زنگ وهلی زړی
توری درلو دی ، ما په خپله یو
مسلمان ولید چې لرگی‌یې په لاس
کې و توره‌یې په خوله کې ونیوله
پرته له ویری دمرمیو په لور روان
و او د هغه دوژلو مؤظف کس یې
وواژه ...

خو ددی تر څنگ ځنی داسی
کسان هم و چې هغوی دعلم
په جامه کې دکمو نزم
پلوی کوله مثلاً :
فخرالدین خدیو یوله هغو سرو علماو
څخه و چې دکمونزم ښکار شوی و
،هغه د کمو نستی انقلاب په دفاع
کې وویل :

. . . دولت غواړی چې تول څمکه
باید په زیار کښو او غریبو خلکو
وویشل شی ، زه ددی عمل دسر ته
رسولو له پاره دولت ته لاس‌په دعایم ،

دافعل په حقیقت کې د حضرت محمد ص سنت دی ! دا ډول علماو د مجاهدو علماو په خلاف فتواگانې صادر کړی چې د مجاهدینو دصف دکمزور تیا سبب گرځیدلی اوپه دی ډول فتواگانو به کمونستانو ته دوحشت کولو بل دلیل په لاس ورغی .

په هر حال د دین اودینې مقدساتو په وړاندې چې مارکسستالودسپکاوی او بیخ ایستلو کوم فعالیتو نه کړی دی ، په دی له درد ځخه د کی پېښې په یاد ولو یې اکتفاکوو .

کله چې کمو نستی انقلاب کامیاب شو ؛ تا تاری بنځې مؤ ظفې شوی څو په فار مونو کې د خو گا نو په تربیه مشغو لې وی ، خو هغوی له دې کار ځخه انکار وکړ ، لاکن د پو لیسو له خوا هغوی د بر چ ی په زور دی کار ته اړ ایستل شوی د سره فوځ ددی بریالیتوب ذکر دقزل تاتارستان قازان ورځپانې د ۱۹۳۰ کال دمارچ په اتمه گنه کې داسې کړی دی ،

. . . تا تاری ښځو ، خدای ، پیغمبرانو ، مولویانو او ملا کا نو (مځکه لرونکو) تهماتې ور کړی او خوگ (خرس) په قران غا لب شوی دی (نعوذبالله) .

روسی ظلم یوازې په بوهه اومتدینه طبقه نه بلکه هر څوک چې د بالشویکی مرام او کمو نستی افکارو مخالف و هغه دملت پرستی او اوهام پرستی په تور تورن وو چې وروکی سزائې د اجباری کا رولو کمپونو ته استو ل وه دو کتو ر ادیجین کریمل په یوه مجله کې چې په میونیخ کې خپریږی او دروس د اورو مجله نومیږی لیکی :

دری زره او پنځه سوه بر جسته اشخاص له ولی ابراهیم سره په اعدام، نظر بند ی او تبعید په دی تور مجازات شول چې په هغوی کې د ملت غوښتنې میلا ن لید ل شوی و (ځلو رم گنه ۱۹۶۰ م)

هرډول مجازات چې خلکو ته ورکول کیدل هغه د کومې پوښتنې اومحا کمې په ترڅ کې نه وو بلکې هغه دترور په شکل اجرا کیدل او پدی ترورا و وحشت حکومتی مشرانو هم اعتراف کاوه .

لینن په ویل : که دسولې په حالت کې د یوه حکومت مشخصه تقوی ده ؛ د انقلاب پـه وخت کې د یـوه حکومت مشخصه ترور دی ، تقوی له ترور ځخه پر ته مفهو م نلری ، ترور یو چابک عدالت دی .

. . . ترور دعدالت سر چینه ده . .

د مارکسستی کودتا ځخه لږورځې وروسته چه کله دترو تسکې له خوا یوسله وال پاځون وځپل شو نو هغه وویل : هغوی فکر کاوه چې موږ به را کد پاته شو خو موږ هغوی له وښو دله چې د د فاع په وخت کې به موږخورا بې رحمه یو موږ د سو سیا لیزم اقلیم ته پـه سپینو لا سپو ښو نشوای ننوتلای . . . تاسو زموږ د لږ ترور په وړاندی انتقاد کوی خو ژربه پوه شی چې ترور یعنې څه ؟ . . .

د زر ژنسکی د ترور په د فاع کې وویل : موږ دمنظم ترور غوښتونکی یو ، چیکایوه محکمه نده ، چیکاوظیفه لری چې له انقلاب ځخه دفاع وکړی . . . امکان لری چې کله یې توره په بیگناه خلکو هم را تیته شی .

د گورکې دبهار یوی ورځپانې (نوی ژوند) په یوه راپور کې ولیکل :

وژل دوام لری ، هیڅ ورځ یاشپه نده تیره شوی چې په سل گو نو تنه نه وی پکې وژل شوی .

د منظم ترور لپاره بالشو یکانو په لمړی ځل په ۱۹۱۷ کال د دزرـ ژنسکی په مشری له مجرمینو ځخه د تحقیق لپار ه کمیته جوړه کړه څو د با لشو یکانو د مخا لفینو کار تصفیه کړی خوډیر ژر دی کمیتې دسیاسی پولیسو شکل غوره کړچې دچیکاپه نوم یې ونوماوه ، چیکا په لومړ نیو څو میا شتو کې په علنې ډول دو ه سوه زره تنه له ژوند ځخه یې بر خې کړل . هغه چې داجباری کارونو په کمپونو کې په پټه کې د چیکا قربانې شوی خو ضمیر یې تر دری سوه زره کسانو هم زیات و .

په ۱۹۲۲ کا ل کې د چیکا ځای

جی ، پی ، یو (د دولت سیاسی اداری) ونیو چی هغه هم یو تروروستی سازمان و . په ۱۹۲۳ کال کی د (جی ، پی ، یو) ځای (او ، جی ، پی ، یو) د « دولت د سیاسی مدیریت واحد » و نیو او په ۱۹۳٤ کال کی د دی دستګاه په ځای « ان ، کی ، وی ، دی » (د خلکو کمیسا ری د داخلی امورو لپاره) تروروستی دستګاه رامنځته شوه اود دی دستګاه په‌ځانګو کی یوه بله مخو فه دستګا « (ان ، کی ، جی ، بی) دخلکو کمیساری د دولت دمصؤنیت لپاره جوړه شوه خو په ۱۹٤٦ کال کی همدا دواړه دستګاوی د وزارتو سویي ته جګی شوی اوپه ۱۹۵۳ کال کی (بیریا) دواړه وزارتو نه سره یو ځای کړل اوپه‌خپله یی‌اداره په‌غاړه‌واخسته‌له‌خود ۱۹۵۳ د جون په ۲٦ خرو شچف هغه بندی او و واژه اودا نوی متمرکز تر وروستی دستګاه یی «د کی، جی، بی» په نوم و نومو له . چی د دولت د مصئو نیت د کمیتی مخفف ده .

دادستګاه په‌نړی کی یوه خورالویه تروروستی‌دستګاه ده . له اول څخه تر اوسه یی په ګړو وړو کی کوم بد- لون ندی راغلی ، دنومونو بدلون یی یوازی د دی لپاره و چی خلکو به ددی دستګاه په مقابل کی نفرت ښکاره کاوه . مار کسستانو به د هغی نوم بد ل کړ حتی مسؤلین او کار کوونکی یی هم‌نه بدلیدل‌چی تردیره وخته یی لومړنی رئیس د زرژنسکی د نومونو له بدلون سره سره رئیس پاته شو .

دی وحشی دستګاه نو په هیڅ صرفه له کوله او نه یی محاکمی ته ضرورت پرینښود بلکی یوا ځی دا ورته کافی وه چی مظنون سړی وپیژنی چی په کوم تولنیز پوړ پوری اړه لری . د همدی شیطانی دستګاه یوه مسئول وویل :

« . . . . تاسی امید مه لری چی د هر حرکت اوعمل ثبوت به درته ښیو دا چی ایا متهم له حکومت سره کوم مخالفت‌لری اوکنه زموږ دبحث وړ نده ، بلکی هغه څه چی موږ ارزښت ورکوو هغه دادی چی موږ تشخیص کړو چی مظنون له کومی طبقی سره اړ یکی لری ، څه ډول زده‌کړه یی کړی ده‌او څه دنده لری دا سوا لونه باید د سړی سرنوشت معلوم کړی » .

د سره ترو ر مفهوم په همدی کی لغښتی دی .

د روسی د داخلی جګړو د وخت را پوروته ښی چی یوا زی د جنګ په موده کی ددی دستګاه له خوا پنځوس زره‌انسانان اعدام‌شوی دی .

د کی جی بی یو له وحشت څخه ډک چارچلند دا هم دی چی نارضیان د روغتونو په نامه بندی خانو ته لیږ دوی ، هلته د سلفازین له دوا څخه استفاده کوی چی په وجودئی تبه او درد پیدا کوی او دا دوا تر هغو تزریقیږی څو ناراضی سړی په دی اقرا ر و کړی چی نارضایت می د لیو نتوب له امله وواو اوس چی روغ شوم لو هیڅ خبره نشته .

په ۱۹۷۳ م کال کی د روحیاتو نړی والی اتحادی اعلان و کړ چی په روسیه کی د روغتون په نامه د شکنجی دځایونو شمیر دوو سوو ته رسیږی چی یوا ځی دګا سچینیکو روغتون دری زره بستره لری .

کی جی بی د لینن په و خت کی د انقلاب د مخا لفینو په نا مه خلک ربړول خو دستالین‌په وخت‌کی یی‌مخ د ستالین دشخصی‌مخالفینوخوا ته ؤ چی په ۱۹۳٦ کی بالشویک حزب د یوی تصفیی په لړ کی ۷٦۳۳۷٤ تنه غړی له لاسه ور- کړل په دوو کلونو کی د بالشویک کمونست حزب څلورمه برخه غړی د ستالین په دښمنی کی د کی جی بی وحشت وخوړل . په دی تصفیه کی جنرالان ، د پولیت بیرو غړی سفارت کاران ، کمیساران او لیکوالان هم د

کی جی بی د مخکنی نامه (ان ـ کی وی ـ ډی) ښکار شول .

اوس د کی جی بی وظیفه په داخل کی‌دهر ډول (ولی اوڅه ډول) ویونکیو مخنیوی او او روسیی ته ورغلیو ګرځندویو اومحصلینو دنیرګ او فحشاء په لومو کی مارکیسزم ته تیل وهل او د خارجی دیپلو ماتانو او بر جسته اشخاصو اغوا کول او متهمول دی .

همدارنګه په خارج کی دروسی استعمار دپراختیاغوښتنی نقشی تطبیق کول ، کمونست احزاب جوړول او کمونستی کودتاګانی رهبری اوحمایه کول او . . . دی په افغا نستان کی د کی جی بی خاښ (اګسا) ـ د افغانستان د ګټو د ساتلو اداره ـ هم د خلکو دغولولو لپاره په کام (ګار-ګری استخباراتی موسسه) او خاد (خدمات اطلاعات دولتی) بدل شو خو په حقیقت کی یی کوم بدلو ن نه و راغلی . هغه یی تحقیقه وژل هم د اګسا تر نامه لاندی کیدل او هم د کام تر پردی لاندی وشول . اوس یی واد (وزارت امنیت دولتی) ور کړی دی . که څه هم په افغانستان کې د مجا هد ینو عملیا تو دا امکان کم کړی و چی کی جی بی دتصفیی پروګرام په خپله خوښه تطبیق کړی وای خو بیا هم چی چیری یی وس رسیدلی هلته یی د علماو او بیا دهغه چا په بندیانولو لاس پوری کاوه چی د تدین په رنګ به رنګ وو له بند څخه و رو سته خو کوم تحقیق ته ضرورت نه پیښیده . یوائحی شکنجه وه او پریکړه ، نور نو هغوی ته دا مهم نه وه چی مظنون د حکو مت مخالفت کوی او کنه ؟ خو چی د دیانت سابقه به ور سره وه هغه به مجرم و .

د مسجدونو او مدرسو تخریب خود دوی په وس کی په دی نه و چی د دوی تر تخریبی ا قدا ما تو د مجاهدینو عملیات مخته پیل شول .

خو د مدارسو په تدریسی پرو-ګرام کی بدلو ن هم یو تخر یب و چی د مدرسو دینی صبغه یی په مار-کسستی رنګ بدلوله .

(پاتی لری)

درناویره

یو سړی زما آشنا دی نکته دانه
دانکته مي اورېدلی ده آشنا نه
وايي هرکوچنی ویرېږي په تورتم کي
اوغتان واړه ویرېږي له رڼا نه

سید شمس الدین مجروح

د اسلام په رڼا کې

که رڼا ده پیروي د محمد (ص) ده
ګڼې نشته په جهان بله رڼا

مجاهد راه خدا (ج)

الحاج احمد

مجاهد راه خدا (ج) باید توجه داشته‌باشد واجبات که‌برسایر مسلمین و مسلمات مقر ر بوده و اوصاف که خا صه مو منا ن است آن صفات و خصو صیات لازمه مجاهدین میبا شد. مسلمانی که جهادمیکند در راهخدا(ج) پیر و ی کا مل شرعیت غر الی محمدی ﷺ حسب تو ا ن و طا قت بشري براوشان لازم‌بوده ، بایداطاعت دین‌خدا وحاکمیت قرآن را بر خویش وهمه اعمال شخصی و اجتماعی خود قبول نماید ، چه در میدان مصاف و مقابله وچه‌در وقت‌ومکان تهیه‌وسایل مادی و نیروی معنوی پیروی کامل و اطا عت همه جا نبهٔ از ا حکا م و فرمایشات قرآن داشته باشد ، و هیچ وسیلهٔ‌مصاب‌ترورساتر به‌هدف‌مطلوب درجهاد ازاطاعت دین‌خدا (ج) نیست و نمیباشد . تمام برتری هاو سیا دت های مسلمین و مجا هد ین راه حق دراطاعت وایمان کامل به خدا (ج) و دین وی میباشد .

(وانتم‌الاعلون ان‌کنتم مومنین)علوه و برتری فکر ی ، علمی ، ما د ی و معنوی درذات و حقیقت اسلام مزج و نهفته استودر این‌امر هیچگاه سیر نزولی و ارتجاعی ند ا شته ا ز بد و امرالی یوم قیامه اصالت وبرتری آن ثا بت وحتمی میباشد .« الاسلام یعلو و لایعلی علیه» سیر نزولي و صعودی درطرز حیات‌فردی واجتماعی مسلمین وابسته به کم‌وکیف پیر و ی اوشان از دین ا لهی (ج) میبا شد . مادامیکه مسلمین ازدین خدا پیروی و اطاعت کامل داشتند همه برتری های فکری سیاسی ، علمی ، اقتصادی و . . . ازآن آنها بود .

هر گا ه مسلما نا ن ا ز کتا ب خدا (ج) بیگانه و دورشدند واساسات بیگانگان را بر خودً قبو ل داشتند از مدنیت ، حریت‌و . . . خود را بیگا نه کرد ند ، ستر نا میمو ن ا ستعما ر و وابستگی و دنباله روی به بیگا نگان آ هسته آ هسته بر تمام جانب زندگی اوشان پهن‌واثرات نامطلوب‌ومسموم آن در همه شقو ق حیا ت مسلمین و مسلمات جای‌گرفت ، یگانه‌راه مطلوب و اصولی رسید ن‌به هد ف « حکمیت مطلقه قرآن» وقتی میسر شده میتواند که‌بصورت همه‌جانبه خودرا ازاسارت فکر ی ، فر هنگی ، سیا سی ، مد نی حقوقی و اقتصادی ا جا نب کشید ه تمسک‌به کتاب الله وسنت رسول الله زده وبه صفت‌یک‌فرد و یا جامعه حر مستقل و متکی به خود عرض اندام نما ید . در آن وقت به ساحل نجات رسیده و شاهد مطلوب را به آغوش کشید ه میتواند .

هیچو قت و به هیچ صورت به کسی مجاهد گفته نمیشو د که جهاد

آن برای حصول دنیا ، کسب ، شهرت جلب منافع سیاسی ، قومی ، نژادی و شخصی باشد و عمل وی در اثنای جهاد برای رضای شیطان باشد . منقاد غیر الله و غیر دین خدا (ج) بوده دوستی و موالاتش تواضع و انقیادش با غیر مسلمین باشد .

یقین که مجاهدین آرزومند دیدار خدا (ج) وکسب رضای او بوده تمام التزامات را بصورت بهتر و ادراک آنرا نسبت به دیگران زیاده ترمیکند. بخاطر اعلای کلمة الله وغالب شدن دین الهی (ج) در مقابل تمام ادیان و مکاتب میرزمد . ووی بنده خدا (ج) میباشد ، رفتار میکند مطابق اوامر و نواهی خدا (ج) ، ووی را در دین راه بجزاز خدا هیچ چیزی دیگر مطلوب نمیباشد . چگونه تصور شده میتواند این امر ازکسی که منحرف در عقیده و منحرف در تصور خداوندی (ج) باشد ، چگونه مجاهد شده میتواند شخصیکه تمسک به اوامر الهی نداشته ازمنهیات شرعیه جلوگیری نکرده ، به سوء اخلاق و اعمال گرفتار باشد . شب وروز مصروف دعوت الی شیطان باشد ، هیچ نوع حریت فکری نداشته بلکی به خود ، جامعه ، انقلاب و. . . از دیدگاه بیگانگان بیاندیشد و عمل نماید . هرچه بگویدوبکند ؟ ابداً این قماش افراد مجاهد نبوده بلکه عنصر تخریبی گماشته شده در صفوف جهادی و نظم آن میباشد و یانسبت نداشتن تربیه وتعلیم کافی دینی به این مرض گرفتار میباشد . تاعلاج این مرض به اوشان مجاهد گفته نمیتوانیم .

بر مجاهد لازم است که با حفظ و ادای حقوق شرعی درجهاد فی سبیل الله جهت اعلاء کلمة الله وکسب رضاء او تعالی (ج) اخلاص خاص وبخصوص داشته باشد .

۱ ـ اخلاص : معنی اخلاص درراه خداوند متعال اینست که خالص سازد خود را از هرگونه مقصد به جز از رضای خداوند یکتا (ج) اینکه نیت مجاهد خالصاً لوجهه الله باشد ومطلوب ازجهادو جنگش اعلاء کلیمة الله باشد .

(الذین امنوا یقاتلون فی سبیل الله) مؤمنان جنگ و جهاد میکنند در راه خداوند (ج) برای اعلاء کلمة الله نه برای اغراض دنیوی .

(وما امروا الا لیعبدوالله مخلصین له الدین حنفاء) ومأمور نه شدند مگر اینکه عبادت کنند خداوند (ج) را خالص کنندگان دین برای اوتعالی ـ (ج) از ابو هریره (رض) روایت شده که حضرت رسول الله (ص) فرمود :

اول نفر یکه در روز قیامت بالای وی حکم میشود کسی است که شهید شده بود وی نزد خداوند آورده میشود ونعمت های خداوندی (ج) برویش پیش کرده میشود روایت شد و اعتراف میکند به آن ، میگوید : پس چه عمل انجام دادید در دنیا . شهید میگوید جهاد کردم در راه ات تاآنکه شهیدشدم، خداوند(ج) میگوید : دروغ گفتی از خاطر جهاد کردی که ترا دلاور بگویند وگفته شد برایت ، یعنی اجر خودرا در دنیا دیدی بعداً امر کرده میشود برآن کشان کشان بروی بردوزخ انداخته میشود . ؟

احادیث متعددی درین موارد امده که همه مشاعرو دال براین است که جهاد مجاهد صرف از خاطر رضای خداوند (ج) واعلای کلمة الله باشد . نه از خاطرکسب شهرت های کاذب دنیا ونه ازخاطر کسب رضای ارباب قدرت .

تاازین رهگذر منافع زیاد مادی و سائر امتیازت بدست آورد . و مورد شفقت و نوازش مسئولین امور قرار گیرند . اگر جهاد ما از خاطر موارد متذکره باشد خرات دنیا و اخرت شامل حال ما میگردد .

(نعوذوبالله منها)

۲ : ـ مجاهد که غرض رضای خداوند (ج) و اعلای کلمة الله می رزمد هیچگا با کفار از در اشتی ، تواضع وفروتنی پیش نیامده ، مادام که به اسلام گرایش پیدا نه کرده باشند وهمه کفار را دشمن ودارای یک ملت در مقابل مسلمین دانسته

موالات و دوستی قلبی را به او شان حرام ومعصیت می پندارد . باهر چه قضا وت و سخت گیری با کفار می جنگند ، وبا برادران مسلمان و مؤ منین خو یش طوری رو یه می نما یند که روحیهٔ اخلاص ، محبت ، عا طفه و د یگر مزا یای اخلا قی ز یست باهمی مقتفی ان بو ده وسوی د یگر عبادت پروردگار را هیچگا ه از نظر وعمل دور ندا شته در بر نا مهٔ های زندگی خو یش جای مقد م و وا ضح برای ان قایل میبا شد . بجان ودل ساعی بود ه که بر آن عمل نمایند ، خداوند متعال می فر مایند .

(محمد رسول الله والذین امنو معهٔ اشداء علی‌الکفار رحماء بینهم تراهم رکعاً سجداً یبتغون فضلاً من الله ورضوانا)

محمد فرستاده خداوند (ج) میباشد کسا نیکه همرا یش هستند سخت دل هستند در مقا بل کفار ورحم د ل و مهربان اند میان هم ، می بینی ای محمد او شان را رکوع کننده گان و سجده کننده ، طلب میکند فضل الله ورضایش را .

خلا فت

الحاج قاضی میرزا خان «دلیلی»

دخلافت لغوی معنی:

د خلافت کلیمه ؛ د مصدر صیغه ده لکه کتابت چه معنی ئی ورروستی دی په قرانکریم کی خلف په څو ځایونو کی راغلی دی .

مثلاً : **یعلم ما بین اید یهم وما خلفهم .** (البقرة ۲۵۵)

پوهیږی خدای (ج) په هغه باندی چه ئې مخکی د دوی دی او په هغه باندی چه و روسته د دوی دی . لغت پوهانو د همدی لغوی معنی په اعتبار د خلافت معنی امارت او حکومت او د خلیفه معنی امیر او حکمران هم کړی ده .

دخلافت اصطلاحی تعریف:

د اسلامی سیاست پوهانو چه د خلافت اصطلاحی تعریفونه کړی دی دهغو څخه یو څو مثالونه په لاندی توگه دی .

ابوالحسن ماوردی « رح » چه په (۴۵۰ ه) کی وفات شوی دارنگه لیکی :

الامامة موضوعة لخلافة النبوة في حراسة الدين و سياست الدنيا ((الاحكام السلطانية_طبع مصر ۱۹۷۳))

ابن عابدین شامي حنفی « رح » لیکي چې رياسة عامة في الدين والدنيا خلافة عن النبي « ص » (مجموعه شامی)

شاه ولي الله دهلوی محد ث «رح» چی په « ۱۱۷۶ ه » کي وفات شوی فرمائی :

هی الر یاسة العامة فی التصدی لا قامة الدين .

خلافت عبارت له هغه عمومی‌ریاست څخه دی چه عملاً ددین د اقامی په طرف متوجه وی . په دی تعریفونو کی کوم اختلاف نه شته خو یواځې په تعبیر کې ئی فرق موجود دی . د تعریفونو لنډیز دا دی چی :

خلافت عبارت له هغه عمومی ریاست څخه دی چی محمدرسول‌الله«ص» په نیابت کې ددین اودنیا کاروکړی. په کوم ملک کی چی خلافت جوړ - یږی باید د هغه په اوسیدونکو کامل اختیار ولری دکور ، قبیلی یاکورنی حکومت ته په اصطلاح کی خلافت نه ویل کیږی بلکه د هغه لپاره (ولایة عامه) شرط دی .

دخلافت څرنگوالی دقرآن کریم له نظره :

هغه آیتونه دمثال په توگه وړاندی کیږی‌چی په‌هغوی کی‌خلافت په عمومی دول یاد شوی .

۱ ـ داستخلاف مبارک آیت :

وعدالله الذین آسنوا منکم وعملوا

الصالحات یستخلفنهم فی الارض کما استخلف الذین من قبلهم ولیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم ولیبدلنهم من بعد خوفهم آمنا یعبدوننی ولا یشرکون بی شیآ ومن کفر بعد ذلک فاولئک هم الفاسقون (النور ۵۵)

وعدی کړی خدای «ج» له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی‌دی له تاسو څخه او عملونه ئی کړی‌دی دنیکوچی خامخا به خلیفه‌گان کړی دوی‌په‌زمکه کی‌لکه چی خلیفه گان کړی‌ئی وو هغه کسان چه‌پخوا له دوی‌څخه‌وو .اوخامخا به‌ثابت کړی دوی لره دین ددوی ، هغه دین چی غوره کړی ئی‌دی دوی لره ، او خامخا به بدل ورکړی دوی لره پس له ویری ددوی څخه امن،عبادت‌به کوی دوی زما،شریک به نه پیدا کوی دوی له ماسره هیڅ شیز ، او هر څوک چه کافر شو پس له‌دی‌څخه پس دغه کسان هم دوی فاسقان‌دی . د پورتنی مبارک آیت څخه په ډاګه معلومیږی چی اسلامی ریاست د خدای «ج» نعمت دی پرته له هغه یواځی دتعلیم او تبلیغ پواسطه نه دین ته مطلوب خدمت کیدای شی او نه امن او امان ټینګیږی د پورتنی آیت لنبی دربښتینو خلفاؤ په دوره کی موجودی وی .

۲ - تمکین فی‌الارض په هکله آیت :

الذین ان مکنهم فی‌الارض اقاموالصلوة واتوا الزکوةو امروا بالمعروف ونهوا عن - المنکر ولله عاقبة الامور . (الحج ۴۱)

هغه کسان دی که چیری ځای ورکړو مونږه دوی‌لره په زمکه کی نوسم به و دروی نمونځ او ور به کړی زکات او امر به وکړی په نیکی سره اومنعه به وکړی له ناروا څخه او خدای (ج) لره دی انجام د ټولو کارونو . د حضرت ابن عباس (رض) وینا ده چه ددی آیت مصداق په اول کی مهاجرین او انصار دی؛ خو هغه خلک هم مصداق دی چی په اخلاص سره دهغوی پیروی‌کوی . ضحاک او ابن نجیح فرمایلی چی په دی آیت کی حکمرانانو ته لاربښودنه شوی ده چه کله خدای «ج» هغوی ته ملک او سلطنت ور بخشش کړی نو هغوی به په خپل اقتدار کی هغه کارونه کوی چه خلفای راشدین‌کړی دی . او که چیرته څنی انحراف‌کوی نو د بدو لتابیجو به هغوی پخپله مسئوول‌وی‌ځکه خدای «ج» فرمایلی « و لله عاقبة الامور »

۳ - آیت اولی الامر :

یاایها‌الذین‌امنوا اطیعوا‌الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم فان تنازعتم فی شئی فردوه الی الله و الرسول ان کنتم تومنون‌بالله والیوم‌الا - خر ذلک خیر و احسن تاو - یلاً (النساء ۵۹)

ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی فرمانبردار ی کوی د خدای «ج» اوفرمانبرداری کوی د رسول «ص» او د څښتنانو د حکم له تاسو څخه پس که نزاغ وکړه تاسو په یو شی کښی ، پس رد کړی تاسو هغه طرف د خدای ته اوطرف د رسول ته ، که ئی تاسو چه ایمان مو راوړی وی په خدای او په ورځ د اخرت باندی دا کار ډیر بهتر دی او ډیر ښه دی له‌جهته د عاقبته.ابن کثیر (رح) ، قاضی ثناء الله پانی پتی « رح » او طحاوی « رح » لیکلی دی چه د اولی الامر کلمه په عمومی ډول په علماؤاو فقهاؤ او هم په‌امراؤ او احکامو پوری اړه لری . ځکه‌چه د امرنظام اومشروالی په همدغه دواړو ډلو پوری تړلی دی که څه هم دا آیت مبارکی دامراؤ په هکله رانازل شوی دی . دا کلیمه د عمومیت په خاطر .

هر مسلمان چه په هر حیث د مسلمانانو د امر خاوند وی هغه د اطاعت مستحق دی خو په دی شرط چه مسلمان وی او د خدای «ج» او د هغه د رسول «ص» تابع وی .

۴ - آیت سلطان :

وقل‌رب ادخلنی مدخل

صدق و اخرجني مخرج صدق و جعل لي من لدنك سلطان نصيراً

(بني اسرائيل .)

ووایه ته ای رب زما داخل کړه ما په داخلیدو ربښتیا سره او باسه ما په ویستلو ربښتیا سره او وګرځوه ما لره له جانبه خپل څخه حجت ملت کونکی

عبدالله ابن عباس (رض) حسن بصری «رح» قتاده او ابن زید «رح» فرمائي چه کله د مکی کفارو دنبی - اکرم (ص) د شهادت کو لو پریکړه وکړه نو الله (ج) دا آیت شریف نازل کړ او مدینی ته د تللو حکم ئی ورته وکړ اودا دعا ئی هم ور وښوده چی ووایه ای زما پالونکیه رهبه ما دمدینی د اسلام مرکز ته په ښه آبرو سره ورسوه او د مکی څخه می په ښه آبرو وباسه (تفسیر ابن جریر «رح»)

د سلطان د کلمي ترجمه ډیر خلک (پادشاه) کوی خو د سلطان د کلمي معنی په دلیل هم کیږی او د قوت په معنی هم استعمالیږی .

ابن منظور افریقی (رح) لیکی چه (السلطان حجة وبرهان والسلطان الوالی . . . و السلطان قدرة الملک (لسان العرب ج ٧ - ٣٢١ مخ) د سلطان معنی حجت او برهان هم کیدای شی او د حکمران او د هغه داقتدار او قوت په معنی هم راتلای شي .

٥ - د حکم بالعدل په هکله آیت :

ان الله یامرکم ان تودوا الامانات الی اهلها و اذا حکمتم بین الناس ان تحکموا بالعدل ان الله نعما یعظکم به ان الله کان سمیعاً بصیراً

(النساء ٥٨)

بیشکه چی خدای (ج) حکم کوی تاسو ته چه ور کړی امانتونه هغه څښتنانو د هغو ته ، او په هغه وخت کی چی حکم کوي تاسی په مینځ دخلکو کښی داچی حکم کوی تاسی په انصاف سره بیشکه چی خدای (ج) نیک دی هغه څیز چه پند درکوی تاسی لره په هغه سره بیشکه چی خدای (ج) دی اوریدونکی لیدونکی .

ابن جریر (رح) د ابن کثیر (رح) او قرطبی (رح) څخه نقل کوی چه دا آیت د حضرت عثمان بن طلحه «رض» په هکله رانازل شوی دی څرنګه چه د بیت الله دکنجي ګانو د مسئولیت منصب به د دوی دکورنی سره و او د مکی شریفی د فتحی څخه وروسته هغه مسلمانه شوی وه او په دغه کار ئی د ښوا تجربه درلوده په دی اساس د دی مسئو - لیت اهل پخپله

هم دی و رسول (ص) ، دهغه څخه کنجی واخسته او د بیت الله شریف دروازه ئی خلاصه کړه دننه ئی تشریف یوور کله چه دباندی راووت پورتنی آیت شریف ئی په ژبه و- حضرت عثمان ابن طلحه (رض) ئی راوغوښت او دبیت الله شریف د کنجی ګانو مسولیت ئی وروسپاره «ابن کثیرج ٢ ص ٣٢١ قرطبی ج ٥» څرګنده دمچه دبیت الله شریف د کنجی ګرځول کوم مالی امانت یافرض نه و بلکه دمسولیت یومنصب وکه څه هم په عمومی ډول ددی کلمی په مفهوم کی ټول امانتونه شامل دی ابن تیمیه پخپله مجله د (السیاسة الشرعیة فی الراعی والراعیة) کی لیکلی دی چه دشرعی سیاست دوه اصول دی اول :

(اداء الامانت الی اهلها)

یعنی مسولیتونه او منصبونه دهغوی اهل ته سپارل . دوهم «حکم بالعدل» یعنی دانصاف او عدل له مخی پریکړه کول. او حضرت علی (رض) فرمایلی چی دا مبارک آیت دحکامو په هکله راغلی دی . په هر صورت .

اصلی اقتدار او حاکمیت دلوی خدای (ج) دی د حکومت منصبونه یوامانت دی چه دهغی اهل، مستحق او لایق خلکو ته به ورکول کیږی. بنی اسرا ئیلو د مسولیت منصبونه نااهلو او بدکاره خلکوته ورکول چی په نتیجه کی ټول ملت خراب شو . د اسلامی حکومت ټولو اوسیدونکو ته قانونی برابری حاصلوی په دی آیت شریف کی ئی یوائی د عدل

بین المسلمین » لپاره حکم له دی کړی بلکه د « عدل بین الناس » لپاره حکم شوی دی دقانون دلاغذیدو او دعدل کولو په خاطر نسل ، رنګ وطن ، ژبه توپیر روا له دی ګڼلی شوی .

د اسلامی حکومت دجوړلو ارتیااو اهمیت دقران کریم په واسطه ثابت شوی دی همدا رنګه داسلامی حکو مت او په اسلامی سیاست پوری مربوطو أحادیثو زیرمه د حدیثونو په کتا بونو کی مو جوده ده صرف د مثال په توګه دا لا ندني حدیثو نه لیکو :

۱ - عن ابی هریرة (رض) قال النبی (ص) سبعة یظلهم الله فی ظله یوم لاظل الا ظله الامام العادل .... و رجل ذکر الله خالیاً ففاظت عیناه (صحیح بخاری کتاب الصلوة ج ا ص ۹۱)

نبی کریم (ص) فرمایلی دی چه اوه د و له خلکو ته الله (ج) په خپل سیوری کی ځای ور کوی په هغه ورځ کی چه د الله (ج) له سیوری پر ته بل سیوری نه وي موجود . ۱ - عادل حکمران ۲ - هغه ځوان چه د خپل خدای (ج) په عبادت کی لوی شوی وي ۳ - هغه سړی چه د هغه زړه له جوماتو سره تړلی وي ۴ - هغه دوه کسان چه د خدای (ج) لپاره پخپلو منځو کي مینه کوي . په مینه یو د بل سره یو ځای کیږي او په مینه یو د بل څخه جدا کیږي ۵ - هغه شخص چه د کومی غټي مرتبی لرونکی ښایسته ښځی له خوا ورته د ګناه کو لو په لور بلنه ورکړی شوی وي او هغه په ځواب کی ویلی وي چه زه د خدا یه څخه ویریږم ۶ - هغه سړی چه په پټه صدقه ورکوي په داسی حال کی چه د هغه چپ لاس هم پری نه خبریږي چه د هغه ښی لاس څه شی ورکړی ۷ - هغه سړی چه په یوازیتوب کی خدای (ج) یادوي او سترګو څخه ئی اوښکی راځي .

نبی کریم (ص) فرمایلی چه د قیامت په ورځ د الله (ج) په دربار کی د لومړی مرتبی خاوند عادل حکمران وي چه په خلکو کی په نرمی کونکی وو او د ښکته مرتبی بد ترین سړی به د قیامت په ورځ ظالم حکمران وي .

۲ : عن ابن عباس (رض) قال رسول (ص) یوم من امام عادل افضل من عبادة ستین سنة و حد یقام فی الارض بحقه ازکی فیها من مطر اربعین صباحاً .

(الترغیب ج ۳ ص ۶۷)

د عادل حکمران یوه ورځ د (۶۰) کا لو نفلی عبادت څخه غوره ده ، او یوه شرعي سزا ء چه د حق او انصاف په رڼا کی ئی په ځمکه قائموي د ځلوېښتو ورځو باران څخه ډیر برکت راوړي .

۳ - عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله (ص) ثلاثة لاترد دعوتهم الصائم حتی یفطر والامام العادل ودعوة المظلوم (الترغیب ص ۶۶)

ددری کسانو دعانه رد کیږی ، د روژه لرونکی ، دعادل حکمران او مظلوم .

د اسلامی حکو مت څخه پرته ژوند کول جاهلیت او ناپوهی ده . حضرت حذیفة (رض) ته حضرت سرور کا ئنات (ص) فرمایلی چه د مسلمانانو له ډلی سره اوسه او د هغوی د امام اطاعت او پیروی کوه .

۴ - عن ابن عباس (رض) قال النبی (ص) صنفان من امتی اذا صلحا صلحت الامة و اذا فسدت فسدت الامة السلطان والعلماء فی روایة الامراء والفقها .

زما امت ددوه ډولو خلکو حالت به ترڅه وخته پوری ښه وی نو د امت حالت به ښه او بهتر وی او کله چه دهغوی حالت خراب شی نو په امت کی هم خرابی او بدی منځ ته راځی ددی دوه ډلو څخه مقصد

حکمرانان او علما دی .

په اسلام کی دامام او خلیفه ټاکل یو ضروری کار دی دا حدیثو نه د مثال په توګه ولیکل شول او که نه د فقهی ، حدیثو او تفا سیرو داسی کوم یو کتاب به نه وی چه په هغه کی د امام دټاکلو ضرورت او اهمیت نه وی بیان شوی امام رازی (رح) فر مائی چه ، هر هغه څوک چه سیاسی حکمران اوسی اودخپلو شخصی ګټواو اهدافوپه خاطر حکومت کوی نو د هغه په نتیجه کی به خرابی را پیدا کیږی خو هغه حکمران او سیاسی مشر چه د شریعت پابند او سی مصا- لح ، ښیګڼی او نیکی به خپره شی او دریاست نظام به په ښې طریقی سره چلیږی(تفسیر کبیر«ج ۲۶ ص۱۹۹» اسلامی حکومت ته په فقه او احادیثو کی مختلف نو مونه ور کول شوی دی دټولو مفهوم یو دی او خلافت ور ته ویل کیږی او دا تر ټولو مشهور نوم دی د هغه دتسمیې وجه داده چه اسلامی حکومت د رسول الله (ص) په نیا بت کی کار کوی بل نوم ئی امارت دی داپه دی خا طر چی حکومت د امر او حکم کولو په خاطر جوړ یږی او امامت هم ورته ویل کیږی چي دقوم رهنمائی او مشری په غاړه لری .

اسلام د هیڅ یو انساني نظام مقلد او محتاج نه دی بلکه اسلام خپل ځانته ځانګړی او ممتاز نظام دی او د بشریت لپاره علاج وراندی کوي .

د اسلامی نظام اساس د خدای (ج) په حاکمیت ولاړ دی خو د بشری نظامونو اساس پخپله د بشر په حا- کمیت استوار وی .

اسلام عربی دین نه دی بلکه نړی وال دین دی او د ټولی نړی مسلمانان یو قوم (امت - مسلمه) دی .

په اسلامي نظام کی له سو- سیالزم ځای لري ا و نه دیموکراسی ا و نه د پولا نیالو جوړ کړ ی جمهوریت .

د اسلا م د غه ځانګړی ا و خاص نظام ته خلافت ویل کیږي .

